عبدالله وردک ۲۰۱۹/۰۳/۱۷

# سیاسی ګوندونو ته یوه کتنه!

## لومړۍ برخه

ګرانو او قدرمنو لوستونکو!
نن سبا د زیاتره افغانانو ورونو او خویندو څخه دغه خبره ډېره اورېدل کیږي، چې د افغانستان ټولو سیاسی ګوندونو، د خپل ملت سره خیانت وکړ، او دوی ټولو سیاسی ګوندونو ته، په یوه سترګه ګوري. زه پخپله، له دغه خبرې سره موافق نه یم. زما په فکر سره ټولو ګوندونو، نه، بلکې ځینو ګوندونو په ریښتیا د ملت سره خیانت وکړ. غواړم چې د خپل شخصي نظر دلیل، ګرانو او قدرمنو لوستونکو ته په لاندې توګه وړاندې کړم.

۱ -ګمان نکوم چې یو څوک به، په نړۍ کې داسې یو ملک په ګوته کړي، چې په هغه کې به په ښکاره او یا په پټه، سیاسي ګوندونه وجود ونلري. نو د سیاسی ګوندونو شتون، یو حقیقت دی. ډېر امکان لري، چې دغه سیاسی ګوندونه په مختلفو وختونو کې د ضرورت په آساس، د هغې ملک د خلکو په غوښتنه منځ ته راغلي وي. یو یوه تجار هم لومړی د یوه ځای د خلکو غوښتنه په نظر کې نیسي، او بیا د هغو د خوښې توکي مارکېټ ته وړاندې کوي. نو دغه خبره باید ومنل شي، چې د افغانستان سیاسی ګوندونه هم په همدغه توګه منځ ته راغلي دي.
زه په ۱۳۴۸ شمسی کال کې د ثانوی تخنیک د لسم ټولګی زده کوونکی وم. مونږه د ثانوی تخنیک د نوي تعمیر، لومړنی دوره و. زما ښه په یاد دي، چې په هغو کلونو کې، چې د محمد ظاهرشاه وخت و، ډېرې مظاهرې وې. په هغه وخت کې د جوانان مسلمان، خلق، پرچم، شعلهٔ جاوېد، مساوات، افغان ملت، ستم ملی، صدای عوام، سیاسی ګوندونه جوړ شوي و. په هغه وخت کې په پارلمان کې، مولوی صاحب محمد نبی محمدي، مولوی صاحب سیداکبر، ببرک کارمل، حفیظ الله امین، او داسې نور وکیلان و. شاید دغه خبره به ډېرو لوستونکو ته عجیبه ښکاره شي، چې په هغه وخت کې به د پارلمان غونډه، د کابل راډیو له لارې ګمان کوم راساً خپرېده.
په هغه وخت کې افغانانو ته یوه اندازه آزادي ورکړل شوې وه. ټولو سیاسی ګوندونو، لږ او ډېر غړي درلودل. یا په بل عبارت، ځینو ډېر زیات غړي، او ځینو ډېر کم غړي درلودل.
د افغانستان ځوان نسل هم د خپل سیاسي فکر سره سم په دغو سیاسي ګوندونو کې ځای پر ځای شوی و. د ټولو ګوندونو غړو یو او بل ښه سره پیژندل. هرچا خپل ګوند ته فعالیت کاوه. د یادولو وړ ده، چې چېې ګوندونو ځینې امتیازات لرل، او علت یې دا و، چې هغوی په دولت کې ځینې غټې واسطې لرلې.
په هغه وخت کې به د ځینو ګوندونو غړو په ښکاره ډول روژه خوړله، او په اسلام او مسلمانانو باندې به یې په یوه ډول او بل ډول، ملنډې وهلې.
هېره د نه وي، چې الحمدلله، د جوانان مسلمان د نهضت زیاتره غړي، ډېر ذکي، پاک، منظم، او د عالی اخلاقو څښتن و. دوی به په همغه وخت کې منظمې تعلیمی حلقې لرلې، او په ډېره زیاته اندازه به قدرمنو خویندو هم په ټولو غونډو او مظاهرو کې، د خپلو ورونو تر څنګ برخه اخستله. د یادولو وړ ده، چې شهید انجینر سیف الدین نصرتیار، د پوهنتون په مظاهرو کې ډېره فعاله ونډه لرله.

۲ - یوه خبره باید ټولو افغانانو، او په ځانګړې توګه، ځوان نسل ته، ښه واضح شي، چې داکتر نجیب زما په فکر سره، هېڅکله اسلامی سوله نه غوښتله. زما ښه په یاد دي، چې د پوهنتون په مرکزی لیلیه کې به چې کله ګران او قدرمن ورور عبدالرحیم نیازي، خپلو ملګرو ته خبرې کولې، نو داکتر نجیب به له خپلو ملګرو سره غلی ناست و. ګران او قدرمن ورور عبدالرحیم نیازي به په وار وار په داکتر نجیب او د هغه په ملګرو غږ وکړ چې اې نجیبه وروره! راځئ، چې یو او بل ته قناعت ورکړو. عبدالرحیم نیازي به داکتر نجیب ته ویل، چې که ته مونږه ته قناعت راکړې، مونږه به ټول له تاسي سره یوځای شو، او که مونږه تاسي ته قناعت درکړ، نو تاسي باید له مونږه سره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

یوځای شی، او دا ځکه چې دغه بې اتفاقي به مونږه او تاسي ټول په آینده کي تباه او برباد کړي. د داکتر نجیب او د هغه د ملګرو له طرفه به هېڅ ځواب نه اورېدل کېده.

۳ - د محمد ظاهرشاه د حکومت په آخري میاشتو کې، د پوهنتون د محصلینو د اتحادیي دپاره انتخابات تر سره شول. پدغه انتخاباتو کې، الحمدلله، د جوانان مسلمان د نهضت غړو، په غوڅ اکثریت ځوکۍ تر لاسه کړې. همدغه کامیابی، په دولت کي ځیني سیاسي کړی، او په ځانګړې توګه، روسان راوپښ کړل، او هغه و، چې د محمد ظاهرشاه سلطنت ته یي د محمد داود خان پذریعه د پای ټکی کېښود.

۴ - زما د محمد دائود خان کودتا د نن ورځي په شان په یاد ده. زه د انجینری د پوهنځۍ په اول صنف کې محصل وم. د مونږه دوره ۱۵ میاشتي د مظاهرو له کبله تعطیل شوه، او د مونږه په دوره کې د ۲ کالو محصلین سره یوځای شول. زمونږه د اول صنف لیله په پولي تخنیک کې وه. د محمد داود خان په دوره کې د اسلامی نهضت ځیني غړي بندیان او ځیني شهیدان شول. الله(ج) د دوی ټول وبښي، او الله(ج) د دوی ټولو ته جنت الفردوس ورکړي، او الله(ج) دې، د دوی سپېڅلی ارمان، چې د یوه سوچه اسلامي نظام، منځ ته راوړل و، د مونږه په ژوند کې تر سره کړي. آمین یارب العالمین.
۵ - کله چې د محمد داود خان سپینه کودتا، په ۱۳۵۲ کال کې وشوه، نو هغه د سرطان د میاشتي ۲۶ نېټه وه. هغي ته ځکه سپینه کودتا ویل کیږي، چې په هغه کې، غیر د حبیب الله زرمتي څخه، چې هغه د پل آرتن په حصه کې د خپل ټانګ د چپه کېدو له کبله مړ شو، نور مرګ او ژوبله یي نه درلودله.
نو کله چې د محمد دائود خان کودتا وشوه، نو د جوانان مسلمان د نهضت په غړو د ژوند ساحه ډېره تنګه شوه. هېره د نوي، چې حکمتیار صاحب د محمد داود خان د کودتا، څخهٔ وړاندې، د محمد ظاهرشاه په وخت کې په بندیخانه، او غرونو کې شپې او ورځې سبا کولې.
د محمد داود خان، په لومړنۍ کابینه کې پرچمیانو او خلقیانو ښه غوښنه برخه لرله. پرچمیانو او خلقیانو ته خو د جوانان مسلمان د نهضت فعال غړي ښه معلوم و، نو دوی د حکومتي قدرت پواسطه، د جوانان مسلمان د نهضت غړي، په یوه او بله بهانه بندي، او شهیدان کړل. انجینر حبیب الرحمن هم د محمد داود خان د حکومت په دوره کې د کودتا د کولو په بهانه، له نورو ملګرو سره شهید کړل شو. د نهضت نور تکړه غړي، یو پر بل پسې د دهمزنګ په قلعهٔ بلند کې په جېل کې واچول شول، چې وروسته بیا په ګډه د خلقیانو او پرچمیانو له خواه، د پلچرخي، په بدنام جېل کې، په ډېره بې رحمۍ سره په شهادت ورسېدل. الله(ج) دې، د دوی ټولو شهادت قبول کړي، او د دوی پاک ارمان د الله(ج) د مونږه په ژوند کې ریښتیا کړي. آمین یارب العالمین.
محمد داود خان د خپل حکومت په لومړي وخت کې په بشپړه توګه، د پرچمیانو او خلقیانو تر اغېزې لاندې راغلی و. محمد داود خان د انجینرۍ پوهنځۍ د امریکا د جاسوسۍ ځاله بلله، او د هغه د تړلو فیصله یې وکړه، یعني ګمان کوم چې نیږدې ۲ کاله یي نوي محصلین ورته ونه نیول.
محمد داود خان بیا آهسته آهسته، د خپل د عدلیي د وزیر، د پوهاند وفي الله سمیعی تر اغیزې لاندې راغی. محمد داود خان، عربستان ته د عمرې دپاره هم سفر وکړ.
د یادولو وړ ده، چې محمد داود خان ټول عمر د پښتونستان آزادي غوښتله. اما، چې کله د ذوالفقار علی بوټو له طرفه پاکستان ته دعوت شو، نو د بېرته راتګ نه وروسته یې، د پښتونستان خپرونه، چې د کابل رادیو له لارې خپرېده، له منځه یوړله. نو زما په فکر سره، پرچمیانو د محمد داود خان څخه ښه ناوړه ګټه پورته کړه.
د یادولو وړ ده، چې همدغه محمد داود خان بیا امر وکړ، چې هرکال باید د انجینرۍ پوهنځۍ ته ۱۰۰۰ شاګردان ونیسي، چې په هغه وخت کې به شاید ټول پوهنتون ته ۵۰۰۰ شاګردان نیول کېدل.
د محمد داود خان، د حکومت پالیسي ورځ په ورځ د غرب په طرف روانه وه. داود خان ګمان کوم چې غوښتل، تر روسانو، ځان هوشیار وشیي، مګر خبر نه و، چې هرڅوک چې د بل چا پواسطه قدرت ته ورسیږي، نو هغه همداسي بیا په آسانۍ سره لرې کېدلای هم شي.
محمد داود خان خپل ځان ته یو ګوند هم جوړ کړی و، چې نوم یې ملی غورځنګ و، او ګمان کوم، چې د دولت ځیني مامورین یي یکي بدون د دوی له خوښې داخل کړي و. ما ته په اوس وخت کې د واټس اَپ مفت ګروپونه همداسي ښکاري، چې ته به خبر نه وې، او چا به په خپل سر په خپل ګروپ کې شامل کړی وې. نو زما په فکر سره، د محمد داود خان ګوند، هم د واټس اَپ د ګروپ په شان یو ګوند و.
دا به له انصاف څخه لرې وي، چې دغه خبره هم ذکر نشي، چې ما پخپلو سترګو، د محمد داود خان زوی او د هغه خارجي ښځه، د میوند د جادې منار ته نیږدې، په لیلامي بازار کې، لیدلي دي، چې ځانو ته به یي حتمي څه لیلامي شیان اخستل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د پام وړ ټکي:
ګران او قدرمن لوستونکي، د اسلامی نهضت هغه ورونه او خویندې ملامت نکړي، چې هغوی په پاک نیت د محمد ظاهرشاه او محمد داود خان د حکومتونو په ضد فعالیت شروع کړی و، او دا ځکه، چې په همغه وخت کې، دوی فکر کاوه، چې د محمد ظاهرشاه او محمد داود خان حکومتونه، په نسبي ډول ښه حکومتونه نه و. ورونو او خویندو په ریښتیا سره غوښتل، چې له هغو ښخه بهتره نظام مابین ته راوړي، او دا ځکه، چې دوی پخپله ډېر په اسلام او وطن مین خلک و، او دوی هیڅکله، دغه اوسنی حالت نه غوښتلو.
زه له قدرمنو ورونو او خویندو ښخه په ډېره درناوی هیله کوم، چې زما غلطي را په ګوته کړي، ځکه ځوان نسل ته، باید حقایق، د حقایقو په اصلي بڼه وړاندې شي.
په پای کې دعا کوم، چې الله(ج) دی په افغانستان او په ټوله نړی کې، هغه شانته سوله راولي، چې الله(ج) ته قبوله او منظوره وي. آمین یارب العالمین.
والسلام

زما اړیکه:
abdullahwardak53@gmail.com


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ